# د ډلبندۍ له زاويې نه د پښتو سربلي غونډونو څو مانيزتوب ته کتنه

# The Study of Polysemy in Pashto Prepositional Phrase; Based on Categorization Theory

ډاکټر اجمل ښکلی*

**Abstract:**

Polysemy is a term used in semantics. In semantics, this deals with the meaning of words based on their relation to one another. These connections include Differences, which have Synonymy, Mono-semous, Polysemy and so on. Mono-simous in language are rare; because language's vocabulary is short for things and concepts, so language uses this limited vocabulary to express more concepts. This is an important cause of Polysemy in Language.

In Semantics, however, we see polysemy in word; about morphological and it's cognitive polysemy we study in Cognitive Linguistics, for example: "ke"(in), which is preposition of capacity, if viewed from a cognitive linguistic point of view, it gives a variety of images, such as "Ahmed is in the room" is a closed condition; but "The flower is in vase" shows an open capacity.

In this article, we will point out the different perceptual differences of Pashto Prepositional Phrase, which are based on the theory of categorization. In these different Cognitive meanings of words, one is a prototype.

In Pashto, each preposition has a postposition. These serial assemblies are capacity, instrumental, accusative, ablative and so on conditions. In all of these cases a phrase of preposition is used for multiple conditions, each time playing a different manipulative role. This shows its polysemy.

**Key words:** Polysemy, Cognitive linguistics, theory of Categorization, Prototype, Prepositional Phrase.

څو مانيزتوب د ماناپوهنې بحث دی. په ماناپوهنه کې لولو، چې کلمې له يو بل سره د تړاو پر بنسټ مانا ښندي. په دې تړاوونو کې توپير، چې سوسور راخيستی او تضاد يې هم پکې شامل کړی، هممانيزتوب، يو مانيزتوب، ګډون، څو مانيزتوب او نور راځي. په ژبه کې يو مانيزتوب نادر پيدا کېږي او دا ځکه چې د ژبې ويېزه زېرمه د شيانو او مفاهيمو پر وړاندې لنډه ګڼده، چې له دې امله ژبه له دې کمې زېرمې نه د ډېرو مفاهيمو د بيان لپاره استفاده کوي او دا د څو مانيزتوب يو مهم لامل دی.

---

* Associate Professor, Department of Pashto, University of Kabul

په ماناپوهنه کې خو پر وييز څو مانيزتوب خبرې وينو، خو د ګړونو(مورفيمونو) او د دوی د ادراکي څو مانيزتوپ په تړاو بحثونه ادراکي ژبپوهنې راخيستي، مثلاً: ''کې'' پښتو کې د لوښنتيا(ظرفيت) يو توک دی، چې د وستربل په توګه هم کارېږي. دا توک که د ادراکي ژبپوهنې له زاويې نه وګورو، چې مانا ننداريزه(منظري) بولي، نو ''کې'' څو ډوله انځورونه راکوي، لکه ''احمد په کوټه کې دی'' يو سرپټې ظرفي حالت دی؛ خو ''ګل په ګلدان کې دی'' يو سرخلاصی ظرفيت ښيي.
په دې ليکنه کې د پښتو سربلي غونډونو دې بېلابېلو ادراکي توپيرونو ته اشاره شوې، چې د ډلبندۍ د تيورۍ پر بنسټ شنل شي. يعنې په دې بېلابېلو ادراکي ماناوو کې يې يوه مانا مخبېلګه ده او نور ورسره شاوخوا په ټولۍ کې شاملې دي.
په پښتو کې هر سربل يو وستربل لري، چې په ځينو سربلي غونډونو کې سربلونه او په ځينو کې وستربلونه انتخابي دي. دا سربلي غونډونه د ظرفيت، استعلا، وسيلې، وتون پېر، موخن او نور حالتونه دي. په دې ټولو حالتونو کې يو سربلي غونډنو د څو حالتونو لپاره کارېږي، چې هر ځل يو مختلف مانيز نقش لوبوي او دا يې څو مانيزتوب ښيي.

**کليدي کلمې**:
څو مانيزتوب، ادراکي ژبپوهنه، د ډلبندۍ نظريه، مخبېلګه، سربلي غونډونه.

**سريزه**:
څو مانيزتوب په دوديزه ژبه کې د يوې کلمې څو ماناوو ته وايي. د څو مانيزتوب يو لامل په ژبه کې له تاريخي پلوه د کلمو د ماناوو پراخېدل ګڼل کېږي؛ خو دلته د ډلبندۍ له زاويې نه د پښتو سربلونو پر څو مانيزتوب خبرې کوو.

> "هغه تيوري چې پر مخبېلګو بحث کوي، Prototype theory نومېږي. دا تيوري په ۱۹۷۰ کې د الينر روش او ټولګيوالو رامنځته کړه. روش په دې لټه کې و، چې مرکزي رنګونه د ژبې زېږنده دي، که ادراکي او مخژبني دي؟ نوموړې پر ماشومانو او د داني ژبې پر ويناوالو څېړنې وکړې. په داني ژبه کې يوازې دوه او په انګليسي کې يوولس اصلي رنګوييونه موجود دي".(**1**)

د دوی په اند، د انسان په ذهن کې د ټولو ښکارندو ټولۍ دي. دا ټولۍ د دوو آرونو له مخې جوړېږي: يو د ادراکي سپما او دويم د نړۍ د رغښت د درک اصل.
د لومړي اصل له مخې انساني ذهن هڅه کوي، چې له خپلو کمو امکاناتو نه په استفاده د نړۍ په اړه پراخه، خپاره واره او ګډوډ معلومات په محدودو ټوليو کې راټول کړي، چې راکم شي او په دې ډول

يې درک اسانه شي. د ګډوډۍ د مخنيوي لپاره يې ورته والي په پام کې نيسي. د دې ګټه دا هم ده، چې هغه پېچلتيا چې په واقعيتي نړۍ کې ده، هغه اسانه شي او انسان په اسانه ترې د خبرو پر مهال استفاده وکړي. د ټوليو دې پوړ ته بنستيي يا تل پوړ هم وايي.

"د دويم اصل له مخې فيزيکي نړۍ پخپله يو رغښت (او انسجام) لري، چې د شيانو له خپلمنځي اړيکو جوړ شوی؛ مثلاً: وزرونه له نورو توکيو سره يوځای کېږي او مارغه ته د الوت وړتيا ورکوي". (**2**)

د دې تيورۍ لومړی اصل د ګشټالټ تيورۍ د هغه اصل له مخې رامنځته شوی، چې انسان ورته(مشابه) شيان د يوه کل په توګهويني. څرنګه چې ګشټالټ د باصرې پر حس خبرې کوي او د حواسو کلي معلومات درک رامنځته کوي، ځکه ترې په ادراکي ژبپوهنه کې د ټوليو په تيورۍ کې استفاده وشوه.

د ډلبندۍ د تيورۍ پر بنسټ انسان په ذهن کې شيان بېل بېل نه، بلکې د شيانو ټوليو جوړوي. په دې ټوليو کې چې کوم شيان راټولېږي، هغوی ته د يوې ټولۍ غړي وايي. دا غړي له يو بل سره بېلابېلې اړيکې لري؛ لکه د ورته والي اړيکه، د کارونې اړيکه او نېژدېوالي اړيکه. مثلاً: د موټر ټولۍ غړي له يو بل سره ورته والی لري، د لوبو د ټوليو غړي له يو بل سره د کارونې له مخې ټولۍ جوړې. د غړيو ترمنځ د دې اړيکو پر بنسټ ټولۍ جوړېږي.

د ډلبندۍ د تيورۍ له مخې په ذهن کې راټولې شوې ټولۍ له يو بل سره اړيکه لري او پخپله ژبه د پياز د پوستکو غوندې له ټوليو جوړه ده. يعنې يوه ټولۍ تر ځان د لويې ټولۍ غړې وي او هغه بيا تر دې د لويې ټولۍ. د بېلګې په توګه: ګوته د لاس، لاس د بدن د ټولۍ غړی دی.

د ټوليو غړيتوب پر درجو ولاړ وي. يو غړی په مرکز کې وي، چې مخبېلګه(پروټوټايپ) ورته وايي او نور درجه په درجه د ټولۍ تر حاشيې پورې واقع وي. مثلاً: د "مارغه" په ټولۍ کې په پښتني کې تر ټولو ښه استازی يا مخبېلګه باز دی. باز د دې ټولۍ په مرکز او نور لکه کوتره، چڼچڼه، کارغه، چرګ ورپسې دي او په سرحد باندې يې ښاپېرک دی، ځکه ښاپېرک د مارغه د ټولۍ غوندې وزرونه لري، الوت کولای شي؛ خو تيور دی؛ نو که د "تيورو" ټولۍ وګورو، د هغې غړيتوب هم ښاپېرک لري؛ خو په حاشيه کې دی. د مارغه د ټولۍ د غړيو ګډ ځانګړي وزرونه لرل، هګۍ اچول، الوتل او ښکې دي.

د ژبې ګرامر توکي هم د ذهن د ډلبندۍ د اصل پر بنسټ د فونيم، د تړلي او خپلواک مورفيم، کلمې او جملې په ټوليو کې راټولېږي. سربلونه هم د ګړ(مورفيم) د ټولۍ يوه غړې ده، چې بېلابېل ګرامري او مانيز نقشونه لري.

د ډلبندۍ په تيورۍ کې په بېلابېلو شرايطو کې د يوه توکي بېلابېلې ماناوې د دې ټولۍ يا مفهوم غړې ګڼل کېږي، چې په دې غړيو کې يوه مانا په مرکز کې واقع وي. يعنې مخبېلګه وي.

**د پښتو سربلي غونډونو شننه:**

په هره ژبه د يو مانيزتوب پر وړاندې د ځو مانيزتوب د تسلط فيصدي لوړه وي. دا ښيي، چې ژبه له يوه توک نه په بېلابېلو مانيزو نقشونو کې استفاده کوي. مثلا په پښتو کې "څانګه" د ونې د ښاخ، ديپارټمنت، مسلک او برخې مانا لري. دا يوازې د کلمو تر سطحې پورې محدوده نه وي، بلکې له ترليو ګړونو سره هم د مانيزو ټوليو په توګه چلن کېږي او سربلونه هم ممکن ځو ماناوې ولري. دلته به د پښتو ځو سربلونه راواخلو، چې ځو ماناوې لري؛ خو يوه مانا يې مخبېلګه ده؛ خو يوه خبره بايد هېره نه کړو، چې په پښتو کې د نورو ژبو پرخلاف د بېلابېلو حالتونو د ښودو لپاره سربلونه او وستربلونه غبرګ کارېږي او د سربلي غونډونه يې بولي. موږ به يې هم دلته د غونډونو تر واحد لاندې مطالعه کړو. په ځينو سربلي غونډونو کې سربلونه او په ځينو کې وستربلونه اختياري وي؛ خو يو پکې التزامي وي:

1- پر...(باندې): دا سربلي غونډ د اصطلاح، په باره کې او اړيکې مانا لري، چې اصطلاحي مانا يې مخبېلګه ده:

1) الف. قلم پر مېز پروت دی.
ب. پر پښتنو کتاب ليکم.
ج. پر تا باور نه لرم.

په الف (1) جمله کې قلم د مېز له پاسه پروت دی. ب(1) بېلګه "د پښتنو په اړه کتاب ليکم" مانا لري او ج (1) بېلګه يوه اړيکه ښيي. په پښتو کې له "پر...باندې" سر بل نه د "پرې" او "راباندې/درباندې/ورباندې" نومځري جوړېږي او د همغه ځيز او وګړي پر ځای کارېږي، چې د دې سربل او وستربل ترمنځ راځي؛ خو "پرې" يوازې د درېيمګړي او "راباندې، درباندې او ورباندې" د درېواړو لپاره کارېږي: پرې پروت دی، کتاب پرې/ورباندې ليکم، باور درباندې نه لرم.

څرنګه چې په پښتو کې د "په" او "پر" کله ناکله د يو بل ځای نيسي؛ نو دا ځانګړنه يې د "پرې" په نومځري کې هم ځان ښيي. "پرې" په کره ليکنۍ ژبه کې هم د "پر" غوندې د اصطلاحي حالت او هم د "په" غوندې د وسيلې کارېږي. په لاندې بېلګو کې يې وګورئ:

2) الف. کتاب پر مېز کېږده. ږدم يې پرې.
ب. په چاړه څه کوې؟ الوګان پرې پرې کوم.

په پښتو لهجو کې د ب (2) بېلګه "په" يا "پې" ويل کېږي؛ نو پکار و، چې په کره ليکنه ژبه کې يې د نومځري په توګه په کارونه کې توپير وشي؛ خو ستونزه يوازې دلته نه ختمېږي، بلکې "ورباندې، درباندې او راباندې" هم په دواړو موردو کې کارېږي، هم اصطلاح او هم وسيله ښيي.

3) الف. کتاب پر مېز کېږده. ورباندې ږدم يې.
ب. په چاړه څه کوې؟ الوګان وربانديې پرې کوم.
په دې توګه دا ستونزه لږه پېچلې ښکاري. له تاريخي پلوه د دواړو ترمنځ تجانس د دوی ترمنځ مانيزه تقاطع پيدا کړې. په ژبه کې دا قاعده عامه ده، چې دوه مفهومه په ځينو مواردو کې سره نېږدې او په ځينو کې د رياضي د سيټونو غوندې تقاطع وکړي. د دې تقاطع له امله په ځينو لهجو کې "په" د "پر" غوندې د اصطلاح ښودانه کوي او د دې يو دليل په واقعي نړۍ کې د دوو پېښنو لپاره د "پر" او "په" کارونه هم ده. "په" ظرفيت ښيي؛ خو که د ادراکي ژبپوهنې له زاويې نه ورته وګورو؛ نو يوازې بنده فضا نه ښيي، بلکې پرانيستې فضا هم ښيي. "د بېلګې په توګه په (4) دوو جملو کې "کې" دوه مختلفې ماناوې لري. په الف (4) جمله کې قلم په يوه بنده فضا کې پروت دی؛ خو په ب (4) جمله کې ګل په يوه بنده فضا کې نه دی ولاړ.
4) الف. قلم په دراز(جعبه) کې دی.
ب. ګل په ګلدان کې دی
د ژبې ويونکي په دې توپير پوهېږي؛ خو په سکيماسازۍ کې "کې" د يوه سېمبوليک واحد په توګه مني، چې په بېلابېلو قرينو کې ممکن مختلفه مانا ولري." (۱)
همدا راز استعلا هم يوه انځوريزه سکيما نه جوړوي:
5) الف. پر سرک ناست يم.
ب. پر کور ناست يم.
په ب (5) جمله کې کور يو ظرف چې ښوادنه يې د "په...کې" کار و؛ خو دلته ورته پر کارېدلی، دا د دې دواړو سربلونو ترمنځ مانيزه تقاطع او نېږديوالی ښيي او په دې صورت کې دا امکان زياتېږي، چې د يو بل پر ځای وکارېږي.
2- په...(سره): دا سربلي غونډ د وسيلې، علت او د يوه پېښې څرنګوالی ښيي. لاندې بېلګو ته وګورئ:
6) الف. په چاړه يې روميان پرې کړل.
ب. بريال په ډوډۍ ناست دی.
ج. احمد په خندا شو.
په الف (6) بېلګه کې چاړه يوه وسيله ده او دا حالت يې "په" روښانه کړی. په ب (6) جمله کې د بريال د ناستې لامل ډوډۍ ده او په ج (6) جمله کې يوه پېښه ښيي، چې په (په خندا يې راته وويل) جمله کې د

قيد په توګه راغلی. په پښتو کې د "په" سره د قيد په توګه هم کارېږي. د وسيلې او لامل نورې بېلګې: په جارو خونه جارو کوم، په قلم خط ليکم، په لمانځه ولاړ يم.

3- له...نه/څخه: دا سربلي غونډ د وتون پېر(مفعول منه) او د يوه عمل لوری ښيي. دا سربلي غونډ په ځينو مواردو کې پيلټکي او کله دوام ته اشاره کوي. په لومړي حالت کې ورته مفعول منه حالت وايي، چې دا د دې سربلي غونډ مخښلګه(پروټوټايپ) دی. په لاندې بېلګو کې به يې وګورو:

7) الف. له کندهار څخه راغلم.

ب. له تا نه مې پوښتنه وکړه.

ج. له پنجشنبې نه ناروغ يم.

په الف (7) جمله کې د راتللو د عمل پيلټکي ته اشاره ده، چې کندهار دی. په ب (7) جمله کې لوری ښيي او په ج (7) کې پيلټکی نه ښيي، بلکې د ناروغتيا ته دوام ښيي. چې دا دوه بېلې سکيماوې دي، چې د دې سربلي غونډ په مانا کې مهمې دي او پام ورته پکار دی.

4- ته: په پښتو کې په ځينو لهجو کې اوس هم د " ته"وستربل لپاره د "و" سربل کارېږي؛ خو په کره ليکنۍ ژبه کې د اسانۍ په خاطر غورځېدلی. په پښتو کې "ته" داتيف ويی دی، چې د موخې، پايټکي او لپاره درې ماناوې لري. په دې درو ماناوو کې مخښلګه همغه د موخې مانا ده. موخنه مانا يې د "له...نه" متضاد وتونپېر دی، چې په فارسي کې په "به" مانا کېږي؛ خو پيلټکی بيا فيزيکي موخن موقعيت نه ښيي، بلکې له ويناوال نه مخاطب ته د وينا لوری ښيي. په درېيم حالت کې "په" د "لپاره" لپاره کاريږي. په لاندې بېلګو کې يې وګورئ:

8) الف. پکتيا ته لاړم.

ب. تا ته مې وويل/يووالي ته ډېره اړتيا لرو.

ج. بريالي ته ډوډۍ پخوم.

په دې توګه ويلای شو، چې په پښتو کې ځيني سربلي غونډونه څو مانيز دي، چې په بېلابېلو حالتونو کې بېلابېلې ماناوې لري.

په ژبه کې د څو مانيزتو يو مهم لامل پورونه ده. کله چې يوه مفهومي حوزه د مفهومسازۍ لپاره د بلې مفهومي حوزې ځينې ټوکونه پور کړي، دا څو مانيزتوب او ګڼ مانيزتوب لاړ پرانيزي؛ خو پوښتنه دا ده، چې د خبرو پر وخت ولې له ابهام سره نه مخېږو؟ ځکه چې د متن دروني سياق، د مکالمه قرينه، د ويناوال موجوديت، موقيعيتي قرينه او نور راته لاړ سيده کوي، چې له يوه څو مانيز توک کومه مانا واخلو.

**پایله**:

په پاسنیو برخو کې موږ ولیده، چې د پښتو په سربلي غونډونو کې یو مانیزتوب نشو موندلای، بلکې هر غونډ څو ماناوې لري او دا ماناوې ادرکي ماناوې دي، چې بېلابېلې انځوریزې سکیماوې جوړوي او بېلابیلو حالتونه راښیي. موږ د پښتو د نورو ژبنیو توکیو مطالعه هم د ادراکی ژبپوهنې د ډلبندۍ د تیورۍ پر بنسټ کولای شو.

## حوالې

(1) مهند، محمد راسخ. اصول و مفاهیم بنیادی زبانشناسی شناختي. همدان: دانشگاه بو علی.
۱۳۹۳. ۷۸ مخ

(2)Evans, Vyvyan. A Glossary of Cognitive Linguistics. Edinburgh: Edinburgh University Press. 2007. p. 176